په حقيقت کې دنيا خوږه او شنه ده، او الله تعالى پکې تاسو مېشتوي، تر څو وګوري چې څه کوئ، نو له دنيا څخه وېره وکړئ او له ښځو څخه وېره وکړئ

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: «په حقيقت کې دنيا خوږه او شنه ده، او الله تعالى پکې تاسو مېشتوي، تر څو وګوري چې څه کوئ، نو له دنيا څخه وېره وکړئ او له ښځو څخه وېره وکړئ، ځکه چې د بني اسرائيلو لومړۍ فتنه په ښځو کې وه».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې دنيا په خوند کې خوږه او په نظر کې شنه ده، نو انسان پرې دوکه کيږي او پکې ور ډوبيږي او هغه يې خپل لوی غم ګرځولې ده. او الله جل جلاله له مور څخه ځينې په دې دنيوي ژوند کې داسې ګرځولي دي چې يو د بل ځای ناستي کيږي، تر څو وګوري چې څه کوو، آيا طاعت يې کوو که نافرماني يې کوو؟ بيا يې وفرمايل: پام کوئ چې دنيا مو په لذتونو او زينتونو دوکه نه کړي، ځکه هغه کارونه به درباندې وکړي چې الله تعالى يې درته د پرېښودلو امر کړی او په هغه څه به مو اخته کړي چې ترې يې منع کړي ياست. او د دنيا له سترو فتنو څخه چې ځان ترې بايد وساتل شي د ښځو فتنه ده، او دا لومړۍ فتنه وه چې بنی اسرائيل پکې ښکېل شول.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3053